د افغانستان اسلامي امارت

ستره محكمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د (متحدالمآلونو) څانګه

نېټه: ۱۴۴۴/۱۱/۱۲ هـ ق
مصادف: ۱۴۰۲/۳/۱۱ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۵۴

---

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محكمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد : په تاريخ ۱٤٤٤/۱۰/۲۷هق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز كال د ثور مياشتې د اووه ويشتمي (۲۷) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محكمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادي غونډې اوومه موضوع داسې وه: ((د ستري محكمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱٤٤٤/۸/۱ هق کې د تصويب نمبر (۳۱) د دريمې پريكړې په اساس د ديوانونو په (الف او با) څانګو د ويشلو د ترتيب په باره كې هدايت شوی وو چې ياد هدايت په تاريخ ۱٤٤٤/۸/٤هق د ستري محكمې د منابع بشري عمومي رياست ته استول شوی او د هغه مطابق په ځينو محاكمو كې ديوانونه په (الف او با) ويشل شوي اوس پوښتنه داده: چې يوه موضوع د يوه ديوان په يوه جزء کې وي او د موضوع يو جانب د همدې ديوان بل جزء ته تبديل غواړي آيا دغه تبديل كېدلای شي او كه نه؟))

په اړه يې د ستري محكمې عالي شورا د تصويب نمبر(۳۹)مورخ۱٤٤٤/۱۰/۲۷هق د اوومې پريكړې په اساس داسې هدايت وكړ: ((كه يوه موضوع د يوه ديوان په يوه جزء کې وي او د موضوع يو جانب د همدې ديوان بل جزء ته تبديل غواړي دغه تبديل دې نه وركول كيږي كه ضرورت د تبديل وو د اصولو مطابق دې بل ديوان ته تبديل وغواړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محكمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محكمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محكمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا كې شرعي او اصولي كړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محكمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

---


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، كابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af